ماته مه وایه چی وکی هدیــری شــوی
ماته مه وایه چی وران موشول ښیارونه
ماته مه ژاړه له خپله برخــــه لیــکه
ماته مه راکوه زړه پــــاندی داغــونه
له ماولی تویــښوی معصــومی اوښکی
زما خــــله راپیـــری زاړه زخـــمونه
زه همت دی بیا په نوی غم اخــته کړم
ماته ولی یادوی دامــــــــــی حالونه

دمینې پیل اوپای

کله چې دمنصور حلاج «رح» په بندکې اتلس ورځې تیرې شوې، نوشبلي «رح» ورغی اوپوښتنه یې ورځخه وکړه: « منصورا مینه څه شی دی؟» هغه په ځواب کې ورته وویل چې دغه پوښتنه سبا وکړه.

دوهمه ورځ یې هغه دمقتل په لور روان کړی ؤو، شبلي یې ولید ورته ویې ویل: « دمینې پیل سوځیدل اوپای یې وژل دی»

ستاسو لیکونه او زموږ ځوابونه

نه عقیده پاتی ده نه عنعنه!!

قوماندان امیر محمد «احمدي»

دپښتو متل دی وائی (یار ترکوڅه تیر کړه رنګ ني هیر کړه)

دا هغه ټکی دی چې کــه لږ غــوندی رڼا ورباندی واچوو نوزیات حــقــایق به پکښی روښانه شی ولوکــه داکومــه نوی اوعجیبه غوندی خبره نده په اسلام او پښتنی ټولنه کی خو په وعده باندی وفــاکول یو لوړ مقام او ارزښت لری خو په یوشمیر سیاسی ګوندونو کی یوه لویه بلل کیږی دغو افغانی سیاسی مشرانو خو په وعده باندی دیوی کوچنی خبری ارزښت هم ندی ورکړی ماته هغه وخت رایاد شو چی دحضرت صاحب صبغت الله مجددی حکومت وه، زه هغه وخت نه یوی بین المللی مؤســی سره مامور وم ناڅاپه می دپیښور په دیوالونو سترګی ولګیدی چې داشعار وریاندی لګیدلی وه جنګ جنګ تاختم ګلم جم» رښتیا هم چی زیات خوندئي راکړ او دحکمتیـار دریغ می تائید کړسیا ورځ می چی د مؤسی اوخپلو پروژو په ارتباط کارونه خلاص شول دپکتیا په لور روان شوم له پکتیا څخه چی لوګر ته تلم هلته مو ځینی پروژی وکتلی چی ګورم دحزب اسلامی یو پاټك ؤ اوتالاشی نی پیل کړه زما څخه نی بولك افغانی پدی نامه واخیستی چې وبل یی د ربانی پنځه زریزنوټونه مو ناچله اعلان کړی دی په ډیر قهر او غصه ئی راته وویل چی ته شرم نه لری چی د ربانی پیسی چی هغه له کمونیستانو څخه جوړه ائتلافی اداره ده ګرځوی.

خو په هر حال بولك پنځه زریز نوټونه یی ځما نه یووړل، څو شپی لانه وی تیری چی رادیوګانو اعلانونه وکړل چی حکمتیار او رشید دوستم سره ملګری شول زما زړه دا خبره نه منله فکر می کاوه چی حکمتیار به دا کار څنګه کوی هغه دګلیم جم په مقابل کی زیات سخت دریځه اوپه جګړه بوخت دی خو چی پیښور ته راغلم چی ګورم دحزب خلك لګیادی هغه خپل شعارونه چی لیکلی یی ووه جنګ جنګ تاختم ګلم جم» ورانوی زړه می ومنله چی پاره داخلك سیاسی لوبغاړی دی اسلام ورسره مطرح ندی.

اوس پوښتنه دا راپیداکیږی چی که اصولی اوعقیدوی اختلافات تر نظر لاندی ونیسو، سری نه پوهیږی چی دا ډول غیر اصولی ائتلافونه څنګه مینځ ته راځی چی یو ځلی یی کمونست او ګلم جم کړی اوبیا شعارونه ورکوی چی «جنګ جنګ تاختم ګلم جم» اوبل ځلی له هغوخلکو سره په یو میز کښینی اتحاد او ائتلاف ورسره کوی او د ربانی د اداری په خلاف یی بیا هم په دی نوم جنګوی چی هغه دکمونستانو او جمعیتانو ائتلافی اداره ده او په لسهاوو زره خلك وژنی او په سلهاوو زره یی معیوب، مجروح او بی کوره کوی او بیا بیرته همدغه ائتلافی اداری ته په داسی بی رقمه اوحیرانوونکی توګه تسلیم او ضمیم شی چی ګویا هیڅ نه دی شوی او دوی دجهاد له پیله دینی اوعقیدوی وروڼه ؤو او دیوی لاری ملګری مبارز ځوانان وو.

خو بیا هم په ورځپاڼو کی لوی لوی سرلیکونه ګورم چی «دماهیپر ترون باید ټکی په ټکی عملی شی!!» چی هدف یی په ښکاره ډول «نصف لی ونصف لك» دی. اسلامی دولت، اسلامی امارت، اسلامی بیعت اواسلامی اطاعت هیڅ مفهوم نه لری، دیوه مسلمان په حیث دغه عقیدوی تضادات او دپښتنی عنعنی په خلاف له خپلو ملګرو سره بی وفایی دا راته ښیی چی دی خلکو ته نه عقیده پاتی ده او نه عنعنه.

زاړه یاران که زاړه رقیبان؟

دفرهاد «تسل» طنزیه لیکنه

«ګوره چی هغه فلانی ... شو، اوهغه بل... شو هله زرګوره چی ثانه هم وخت تیرنشی. همدا وخت دی بیا به ارمان کوی...»

دا اوداسی نوری خبری می په څو څو ځایو کښی واوریدی، زیاته خندا راغله، او ډیر خفه هم شوم. له ډیره تأسفه اوغمه می دګرمی له خولو سره د زړه د درد اوښکی یوځای کړی او یو سوړاسویلی می وویست. بیرته دتیلی‌دنیا ته راغلم اودتیل اوتیکین لپاره می ورو وروخپل زړه نه وکتل. زړه راته تیلی تیلی راکړه. داسی معلومیده چی دی هم دغمونو سره اشناشوی دی، او دومره زر دتیلی‌اخیستوعادی ندی.

زه هم ډاډه شوم شوتهی می بی اختیاره دخیال په تیسم وغولیدی او خپل هدف ته راوګرځیدم.

هلته بیا ګڼه ګوڼه اوشورماشور ؤو. بیا دنوی ائتلاف اونوی حکومت خبری وی. د وزارتونو، سفارتونو او ... په برخو پچی «قرعه اندازی» اچولی کیدی. منهی او رامنهی وی.

دکابل جلال آباد او دپیښور دګینو مهاجرکمپونو ترمنځ فاصلی ډیری لنډی شوی وی. داسلام آباد تورو سرکونو په خپلو سرونو بیا دتورو تارکولو تیل سلی ؤو. د تیرو په ځیر د ډیرو نورو دخیال وزری تیری شوی وی اوګله به ئی دخیال سستی دومره په ځپو شوه چی اسلام آباد ته به هم راوالوتو ماداتنه ډیر ولیدل، چی دلته دتورو سرکونو او ددی ځای چوپی چوپتیا او ارامی فضا به ورته رنګ رنګ خیالونه په فکرونو کی غزول. دهر چا د وزارت سفارت او... هیلی په ځپو وی، دیرو ورته ښه ښه کارونه پری ایښی دی.

او په بهر ملکونو کښی دسفارت او سکرتریت دنیولو په تمه ئی دکابل په هوټلونو او دولتی ادارو کښی داسی بخی ووی وهلی. ته به وائی چی دسفارت او سکرتریت خیالی آس ئی زین کړی، او بوازی دده ورختل پاتی دی.

ماچی دګینو خلکو داګرمی او تندی منهی رامنهی ولیدی زیاته خندا راغله، اوهغه دنجب، دتختی دنسکوریدو ورځی رایادی شوی. هغه وخت ډیرو پدی طمعه او هیله دلته برقراره وظیفی پریښودی چی ګومان ئی کاوه، بوازی کابل ته ددوی ورتګ پاتی دی. او ددوی په ورتللو به وزارتونه وی اوسفارتونه او.... دی به وی اوسفیری او... بیانوهرڅه چی دده خوښه وی کوی به ئی ځکه دی به دپوره واك خاوند وی. هرڅه به دده په امر کیږی.

خو دده د ورتګ سره ټوله خبره سرچپه وختنه، دی لاسفرر شوی نه ؤ چی دمنقل کیدو مکتوب ئی صادر شو ځکه حکمتیار صاحب قسم خوړلی ؤ، چی بابه دمیم زرمــا ټوله ژوند» وی. ګنی نور به هم راته په فلار حکومت ونکړی. جنګونه ونښتل. آخر دکابل سمبولیک پاچاصاحب «ربانی» هم د دیکوکنو نه مهاجر شو. اوغریب ئی دکابل دیسـتی هوا اودلکشاماتی درنکیتو اوترموشیو څخه ددیکو وغاړونو او سنګو د ژیړو اوترخو شپو میلمه کړ.

دوستم دحکمتیار صاحب دوست شو، او دحضرت صاحب ترتأثیر لاندی راغلی وزارتونه هم لاړل اوسفارتونه هم، اوچه تللی دوستان بیرته پیښور ته راتلل دا وظیفی ئی هم بل چا قبضه کړی وی.

اوس بیا حکمتیار صاحب خپله وفا بدله کړه، او دمعغربی شوری دګوندی نه ځی په ډیره بی صبری‌سر ودیسته معلومه شوه چی دکومو خیالی جنتونو دخوب په ځپو کښی لاهو شو چی ددوستم خوږه دوستی، او د حضرت صیب ترمه اوسنګینه مشری ورته بده ښکاره شوه او یو ځلی بیا ئی همافه غلطی تکرار کړه دکومی په وجه چی یی په خپلو لاسو دکابل والد «ربانی» ته وسپاره. لنډ فکره اوتندرو حزبیان بیا سره راپیدار شول، بیانی د زړی ورورولی‌اویاری‌ستدری شروع کړی، یوه راته وویل اوس به ملت دارام ســاه واخلی، ځکه چی زاړه یاران سره یوشـول، جنګونه به ختم شی، «ساوختتل ورته می وویل «اشنا تیروتی، داخو به ډیره ښه وای چی دوی د زړه نه یو شـوی وای. سانګی دوی دیاری‌په چل یوه‌ندی اوکاشکی دوی سره وروڼه اویاران وای نه به داجنګونه وو، اونه به داسی ګـولی نه به دعـزت دا درنه شمله ښکته شوی وای، اونه به مو افغانی وقار اوغرور داسی له خاورو سره خاوری کیده.

هغه راته وویل، داسم چی دی جنګونو زموږ وقار مجروح کی، خو دوه ورونه سره جنګ کری بیا پخلاشی مسعود اوحکمتیار که هر څومره سره وجنګیدل مګر اوس یوشول، په یوه کاسه کښی اوباخیری دوی دیوه هدف اویوه فکر ملګری دی، او اوس ویوهیدل، مـــاورته وویل اشناء ثانه هم لکه چی د کیی چوکی‌نشی ددوی ماضی هیره کیدله، دا دومره علم چی مسعود او حکمتیار د یوه هدف او یوه فکر ملګری دی، چی هغه چوکی او اقتدار دی، دواړه پدی فکر کښی سره ورته والی لری نه دتحریك په اړه، ځکه که دوی په صحیحه معنو کی داسلام غوښتونکي وای، نودا څلور کاله جګړه دڅه لپاره وه، او اوس یوکیدل دڅه لپاره دی؟ مسعود او حکمتیار خو دجهاد له پیل نه یوبل ته ښکری اړم کړی وی، اوپه یوه منطقه کښی ئی د یوه بل دموجودیت زغم نه لاره، پام کوه چی دوکه نه شی دا سره زاړه یاران نه بلکی زاړه رقیـــبان دی، دوی که په یوه کاسه هم سره ناست وی خو دزړونو ترمینځ دکیني اوحسد خلیج ئی دومره پراخ دی، چی که دا پاتی افغانستـــان هم پکښی ډوب شی ډك به ئی نکړی!!!

ګرانه وروره فرهاد تسل صاحب! زموږ سلامونه اوښی هیلی هم ومنه ستالیك اویوه ادبی لیکنه راورسیدل، له همکاری‌او دشریعت داځیار له ستایلو څخه دي مننه کوو.

رښتیا خبره داده چی اخبار دځانګړی ملکیت نه دی بلکی دټول مسلمان ملت دارځانونو دښکارندوی په توګه دملت شریك مال ګڼل کیږی، دشریعت اخبار ستاسو او ستاسو غوندی د نورو وروڼو په قلمی همکاری‌لاځوندور ګیدای شی، نو له تاسو او ستاسو په شان له نورو درندو لیکوالانو اوشاعرانو څخه زموږ د ورورۍ‌هیله داده چی په دی مقدسه فریضه کی ځه موږ بوازی نه پریږدی اواوونیزه به خپله اونیزه وګڼی، ستاسو او دنورو وروڼو قلمی همکاری ته سترګی په لاره یو.

په درنښت
(اداره)

د پکتیا محتـرم والـی، مولـوی کرامت‌الله اخند زاده دشریعت اونیزی سره په مرکه کی:

دپکتیا د دیندارو خلکو په پوره ملاتړ په دی ولایت کی بشپړ امنیت ټینګ دی

زما لپاره ډیر دخوشالی‌ځای دی چی نن په هغه ودانی‌کی ددین له یوه عالم سره ناست یم چی څه موده مخکی ددین او وطن ددښمنانو (کمونستانو) په لاس کی وه، دهغه چا په لاس کی وه چی زموږ دوطن اتلس لکه مسلمانان یی شهیدان او بی شمیره یی معیوب اوبی کوره کړل.

ده وویل: داهغه ودانی ده چی دوطن دمسلمانانو دوژلو اوتباهی‌لپاره قومانده تری صادریدله، داهغه ودانی ده چی پکی ددین اوطن پرخلاف مجلسونه کیدل او دوطن دتباهی‌پلانونه پکی طرح کیدل او داهغه ودانی ده چی دروسانو په ګټه دخپل وطن پرخلاف پکی روسی غلامان واکمن وو.

ده زیاته کړه: دهغه نظام د ړنګیدو او پرځای یی داسلامی نظام او اسلامی شریعت د نافذیدو لپاره ډیرو مسلمانانو خپل سرونه قربان کړل.

چی دادی نن زموږ داتلسو لکو شهیدانو ارمان پوره شوی او د خدای (ج) ډیر شکر دی چی نن په خپلو سترګو وینو چی داسلامی عـدالت په رڼا کی دیوه داسی نظام ډیره اپښودل شوی ده چی دلته ځی خدای (ج) داوامرو او دهغه دنازولی پیغمبره ص» د ارشاداتو په رڼا کی به خپلی اداری او ټولنیزی چاری‌پرمخ بیایی.

محترم مولوی احمد جان دخپلو دی خبرو په پای کی له محترم والی صاحب سره خپله مرکه داسی پیل کړه:

پوښتنه: دپکتیا په ولایت کی دطالبانو له راتګ نه وړاندی هیڅ ډول اطمینان او ډاډمن امنیت نه‌و موجود. ایا اوس ددی ولایت امنیتی چاری څه ډول دی اوپه دی اړه تاسو ترکومه ځایه پرمختګ کړی دی.

ځواب: دمهربان خدای (ج) په مرحمت او ددی ولایت دمسلمانانو او دیندارو خلکو په بشپړ‌ملاتړ دپکتیا ولایت په مرکز او ولسوالیو کی بالکل امنیت دی اوټولی دولتی اداری او تعلیمی مؤسسات په ډاډمنه توګه خپلی چاری پرمخ بیایی احیاناً که کوم وخت په کومه سیمه او ولسوالی‌کی کومو غلو دامنیت دګډوډولو اقدام کړی دی، ددی ولایت دخلکو په مرسته دطالبانو داسلامی تحریك ځواکونو سمدلاسه دهغوی مخه نیولی اوله منځه یی وړی دی.

ده زیاته کړه: که څه هم دکابل اداره په روس کی دچاپ شویو بی ارزښته پیسو په رالیږلو سره کوشش کوی په دی ولایت کی داسلامی تحریك پرخلاف خلك راپاڅوی، خو الحمدالله په بشپړ بیداری‌دهغوی شوم پلانونه شنډ شوی اورالیږل شوی پیسی بی نیولی شوی دی.چی دمثال په توګه څلور میاشتی وړاندی د زرمت په ولسوالی‌کی دغه شان څلور تنه داسلامی تحریك دځواکونو له خوا ونیول شول اودشرعی محکمی دحکم له مخی جزا ورکړل شوه.

ددولتی ادارو دفعالیدو په اړه دیوی پوښتنی په ځواب کی دپکتیا محترم والی وویل: موږ کوشش کړی دی چی په مرکز او ولسوالیو کی ټولی دولتی اداری، ښوونځی اوتعلیمی مؤسسات اونوری ټولنیزی اداری فعالی وساتو. خو دښوونځی او روزنی په اړه په لومړیو وختونو کی دمعاش دنشتوالی له امله یو لړ ستونزی موجودی وی اما اوس دخدای (ج) په فضل دغه ستونزی هم له منځه تللی دی، دښوونځو معاشونه پخپل وخت اجراکیږی او دوطن بچیان په ډیره مینه خپلو زده کړو ته دوام ورکوی.

ده وویل: دګردیز په ښار کی مو دیرښتنا سیستم فعال کړی، دبیا ودانولو په اړه مؤسسات، په کارونو بوخت دی، دخلکو دصحت او سلامتی په غرض روغتیایی کلینکونه او روغتونونه فعال دی، خو دملکی روغتون دبیا فعالولو په اړه له مرکز سره تماسونه روان دی هیله ده چی ډیر ژر به دناروغانو په خدمت بوخت شی.

دکابل دنوی ائتلاف په اړه دپکتیا والی وویل: دافغانستان خلك په دی پوه دی چی ځوارلس کاله موږ دچا په مقابل کی جهاد وکړاو دڅه لپاره مو وکړ؟ موږ څوارلس کاله د روسانو او دهغوی دغلامانو پرخلاف وجنګیدو، هدف مو داو چی په وطن کی به اسلامی نظام راولو اوخپلو خلکونه به د ارام ژوند امکانات برابروو، خو له بده مرغه زموږ دمسلمان ملت دا ارمان پوره نه شو اودغه پاك ارمانونه دقدرت غوښتلو قربانی شول.

اود اسلامی نظام پرځای یی داسی نظام راباندی مسلط کړ چی په نړی کی یی ځوك مثال نه شی ښودلای، څکه دهمدوی په وخت کی دافغانانو په مقابل کی داسی‌جنایات تر پاتی په څلورم کی

دځوارلس کلن جهاد اهداف به پوره کېږي

په دغه اسلامي مقدس جهاد کې چې داتلسو لکو افغانانو کومه وینه بهیدلې ده، هغه بوازې اوبوازې د خـــدای «ج» د رضـــا، د بندګانو د ازادۍ اوپه وطن کې داسلامي نظام دټینګېدو او اسلامي شریعت دنفاذ لپاره وه.

اوس زمونږ مسلمان اومجاهد ملت له څـــنو هغو تش په نامه رهبرانو څخه خپه اوبیزاره دی چې دجهـــاد په وخت کې به یې داســلام چیغې وهلې، خـو اوس یې دچوکۍ ســاتلو اوچوکۍ نیولو لپاره بدې راپورته کړې او زمونږ مسلمان ملت یې له یوه سخت ناورین سره مخامخ کړی دی. اوس زمونږ مسلمان ملت هغو کسانو ته دشك په نظر ګوري چې خپله ګېډه دملت له ګېډې غوره بولي، او اوس زمونږ مجاهد ملت له هغو مشرانو څخه راګرزېدلی دی چې اســلام او اســلامي حکومت بوازې اوبوازې پخپل وجود کې ګوري اوفکر کوي چې له دوی او ددوی له تنظیم پرته اصــلاً اسلام وجود نه لري.

خو دا ټول ناوړه عملونه اوبې ځایه فکرونه به انشـاء الله دطالبـانو د اسلامي تحریك تر اســلامي لارښوونې لاندې تر خـاورو لاندې کېږي او ملت به ډېر ژر دنجات اوخلاصـون زیرې واوري .مونږ چې دطالبـانو تر کنټرول لاندې سیمو کې دهغوی اجرآت او کارکردګي ګورو، نو په دې باوري کېږو، چې انشاء الله دځوارلس کلن جهاد اهداف به پوره کېږي.

دهرات خلکو له طالبانو سره خپله بشپړه همکاري جاري ساتلې ده

(دهرات والي محترم مولوي يارمحمد)

خدای دنیکو کارونو اجر نه ضایع کوی، هغه څوك چې دخدای پــــه لارکې جهاد اومبارزه کوی خدای یې لارښود او مددګار دی(دعالی شوری غړی)

دهرات والي محترم مولوي يارمحمد دځینو رسمي چارو داجرا په غرض کندهار ته ورسید.

زمونږ خبریال خبر راکوي چې دهرات والي دتمیز دلوی ریاست په انګړ کې دتمیز له لوی رئیس محترم مولوي خلیل الله فیروزي، د دارالافتاء له رئیس محترم مولوي نور محمد ثاقب او د مرکزي شورې له یو شمیر نورو غړیو سره وکتل.

په دې کتنو کې دهرات والي دهغه ولایت دعمراني، اداري، نظامي اوسیاسي حالاتو په اړه اړونده خواو ته پوره معلومات ورکړل زیاته یې کړه : له کومې ورځې څخه چې له هرات څخه دتورن اسمعیل خان لمن ټوله شوې او داسلامي تحریك اداره ټینګه شوې ده دهغه ولایت مسلمانو خلکو دتحریك له کارکرونکو سره خپله بشپړه همکاري جاري ساتلې اوپه ټولو چاروکې دتحریك له فعالینو سره اوږه په اوږه برخه اخلي.

ده وویل: که څه هم تر یوه وخته پورې په سیمه کې دتورن اسمعیل خان تالي څټو څه ناڅه ګډوډۍ جوړولې اوغوښتل یې چې دخلکو ډاډمن ژوند ګډوډ کړي چې په دې اړوند یې څو ناکامي حملې هم وکړې ، خو دپاك خدای «ج» په مرسته اودسیمې دخلکو په همکارۍ داسلامي تحریك دفعالینو له خوا له ناکامۍ سره مخامخ اوټولې ټیپې ټینانې یې له منځه یووړل شوې.

ده دخپلو خبرو په پا ... وویل: کله چې دتورن اسمعیل خان مرستیال علاوالدین دخپلو عملونو په جزا ورسید اوپخپل ابدي مرګ محکوم شو. له هغې ورځې راپدیخوا داسې کومه ناوړه پېښه نه ده شوې چې په هرات کې دمخالفینو له خوا دامنیت دګډوډۍ کوم حرکت لیدل شوی وی اویا په دې اړه له خلکو سره کومه اندیښنه پیدا شوې وي، للّه الحمد تر پخوا اوس حالت ډېر ښه اوپه زړه پورې دی اوخلك خپلې ورځنۍ چارې په پوره ډاډ پرمخ بیایي.

دهرات دوالي دتوضیحاتو په مقابل کې دتمیز عالي رئیس محترم مولوي خلیل الله فیروزي، محترم مولوي نور محمد ثاقب او دعالمانو دمرکزي شورې ځینو غړیو دهرات د والي له ښو اجراآتو څخه خوښي ځرګنده کړه اوویل: خدای «ج» دنیکو کارونو اجر نه ضایع کوي او هغه کسان چې د خدای «ج» په لاره کې جهاد اومبارزه کوي خدای پاك دهغوی لارښود او مددګار دی ، داچې تاسو دهرات دولایت دا دارو ټول مسئولین اومنسوبین د زړه په مینه اوپخه عقیده د اسلام او وطن خدمت کوئ اوپه دې خاوره کې د خدای «ج» بندګان دبندګانو له بندګۍ نه خلاصوئ ، دخدای «ج» بندګۍ ته یې رابولئ، په حقیقت کې دا دخپل مسئولیت په ښه شان سرته رسول دي.

هغوی وویل : مونږ له پاك خدای «ج» نه غواړو چې دغه شان رغنده او مثمرو هلو ځلو ته دوام ورکړئ اوخپل ټول هغه پلانونه عملي کړئ چې دخدای «ج» د رضا اود خدای «ج» دبندګانو دنیکمرغۍ سبب وي.

دا د خدای «ج» حکم دی چې امانت دی خپل خاوند ته وسپارل شي(مولوي سیف الدین)

هرمؤمن مسلمان چې په شریعت برابر وی د خدای «ج» مرسته به یې په برخه وی (مولوي محمد مسلم حقاني)

دمسلمان په زړه کې له خدای «ج» څخه ویره لرل دایمان نښه ده (مولوي خلیل الله فیروزي)

څوك چې غواړي لوی خدای «ج» ته ځـــان نږدې کړي نو دهغه د رسول اطاعـــت دی کـــوي

(ملا محمد حسن اخند)

له کندهار څخه زمونږ خبریال خبر راکوي چې دهغه ولایت د دایرو دمسئولینو په ګډون د ولایت په مقام کې یوه درنده غونډه شوې وه. غونډه دسهار په اتو بجو دعظیم الشان قرآن دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه .

وریسې دپنجوایي ولسوالي دجامع جومات خطیب محترم مولوي سیف الدین پخپله عالمانه وینا کې وویل: دا دخدای «ج» حکم دی چې امانت دی خپل خاوند ته وسپارل شي. رسمي وظیفه هم یو امانت دی چې باید دهغه اهل ته وسپارل شي، خو دا ددې معنی نه لري چې هغه مقام او هغه اداره دهغه ذاتي اوشخصي ملکیت وبلل شي.

ده وویل: په دولتي اداره او حکومتي مقام کې باید قومیت اونور مناسبات په نظر کې ونه نیول شي، چوکۍ اومقام دافتخار وړنه بلکې دا یولوی مسئولیت دی چې یو چاته سپارل کیږي. نو باید په صداقت او ایمانداری سره ورسپارل شوي وظایف سرته ورسوي.

تر ده وروسته محترم مولوي محمد مسلم حقاني پخپله عالمانه وینا کې وویل: هر مؤمن مسـلمان چې په شریعت برابر وي دخدای «ج» مرسته به یې په برخه ده ځکه لوی خدای «ج» دهغو مسلمانانو ملګری دی چې داسلام دمقدس دین دامـولو او مقرراتو پابند وي.

دپکتیاد دیندارو خلکو په ...

سره شول چې د روسانو په وخت کې نه وو شوي اوقلم یې له لیکلو څخه عاجز دی اوپه پای کې یې پرملت داسې حالات مسلط کړل چې مونږ مجبور شوو دخپل مسلمان ملت دنجات لپاره راپاځو اوددوی پرخلاف ودرېږو.

ده وویل: حکمتیار هم تر پرونه پوري چیغې وهلې چې دا د روسانو او هندوانو دمرستو په زور په پېښو ولاړه اداره ده . خو کله چې په سیاسي او نظامي ډګر کې له ماتې سره مخامخ شو اوقدرت ته ورسیدلو خوب یې اوبو یوړ نوله هغې مزدوري اداري سره یې دچوکیو دترلاسه کولو لپاره هرڅه هیر کړل او دائتلافي اداري په ړنګو کنهوالو ورګډ شو.

دپکتیاوالې دپکتیا دخلکو دهمکاري په اړه دیلي پوښتنې په ځواب کې وویل: دپکتیا غیرتي خلك ډېر شریف اوپه وطن مین خلك دي، دوي په بشپړه همکاري سره داسلامي تحریك تر شاولاړدي اوداسلامي نظام دساتلو لپاره هر ډول همکاري ته تیار دي.

دپکتیا والي په پای کې له ټول مجاهد ملت څخه وغوښتل چې ددښمنانو د دسیسو پرخلاف دې سره یو موټی شي، خپل شهیدان دې نه هیروي دهغوي دارمانونو دپوره کولو لپاره دې له اسلامي تحریك سره اوږه ورکړي اوله خپلو زړونو څخه دې دقـام ، ژبې ، تنظیم ، سمت او خپل تمایلات وباسي ترڅو په دې توګه خپل خـواږه وطن ته له دغه بحـران څخـه نجـات ورکـړو.انشـاء الله

دا ستاسو ملي ...

ده چې دمسلمان او مجاهد ملت دنجات په خاطر خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.

ده وویل: اوس هم ځینې دغرض خاوندان شته چې غواړي دخلکو ارام ژوند ګډوډ اوپه سیمه کې امنیت له منځه یوسي، خو زه باور لرم چې دلوی خدای «ج» په مرسته اوستاسو دمسلمانو پرګنو په بې دریغه ملاتړ به ددغه شـان کسـانو ټول ملي اواسلامي ضـد پروګرامونه ترخاورو لاندې شي اوهغه ورځ به راورسیږي چې په هیواد کې دمسلمان اومجاهد ملت په خوښه واقعاً اسلامي نظام ټینګ اوشریعت نافذ شي.

په مقابل کې دپکتیکا مسلمانو خلکو محترم ملا محمد رباني ته له اسلامي تحریك سره دخپلې هر ډول همکارۍ اومرستې ژمنه وکړه.

شی. رسمي وظیفه ... (see above)

خدای «ج» دهغو مسلمانانو ملګری دی ...

ترهغه پورې چې په هیواد کې ...

ځای نه موندل کیدو.

خبریال زیاتوي دغه وژونکې جګړه په یوه وچه اوبې اوبو دښته باندې چې اصلاً دومره زیات ارزښت نه لري د دوو قامونو ترمنځ روانه ده او هغه وسلې یکې استعمالیږي چې په ځوارلس کلن جهاد کې دمجاهدینو له خوا دروسانو اودهغوی دغلامانو پرخلاف نه وې استعمال شوې .

خبریال وایي: په دې جګړه کې زیاته مرګ ژوبله شوې او لا د نورې مرګ ژوبلې امکانات موجود دي . دطالبانو اسلامي تحریك په داسې حال کې چې د ورور وژنې دغه شان جګړې سختې غندي دجنګ پر دواړو خواو غږ کوي چې داسلامي وروروګلوي اوپښتني دود اودستور له مخې جګړه بنده کړي او تر هغه پورې چې په هیواد کې مرکزي قانوني حکومت نه وي ټینګ شوی نور راغه دې دهیچا ملکیت نه بلل کیږي.

جناب مولانا سیدګلاب...

دڅ ولی دمیرانو په کلي کې په ۱۳۳۵ هـ ش کال په یوه روحاني اوبنداره کورنۍ کې سترګې وغړولې. ده دسیمې له جیدو علماو نه زده کړه کړې او دیوه عالم اومدرس په توګه یې دخپل هیواد دبچیانو په روزلو کې ستره برخه درلوده دجهاد په ځوارلس کلنه موده کې یې له هیڅ ډول جهادي هلو ځلو څخه ځان نه دی سپمولی ، ددهٔ جنازه په خاصو مراسمو سره دهغوی په پلرني هدیره کې خاوروته وسپارل شوه .

روح دی یې ښـــــاد اوسوم دی یې یاد وي

ده د رشوت دناروا عمل په اړه اوږدې خبرې وکړې او دا عمل یې سخت وغانده وی ویل رشوت اخیستونکی، رشوت ورکوونکی او ددې عمل لپاره لاره جوړوونکی دری واړه د خدای «ج» دسخت عذاب مستحق دی.

خبریال وایي چې دغونډې په یوه برخه کې دتمیز لوی رئیس محترم مولوي خلیل الله فیروزي هم اوږدې او ګټوری خبرې وکړې وی ویل: خـدای «ج» دې مـونږ ته دنیکو عملو توفیق راکړي. دمسلمان په زړه کې له خدای «ج» څخه ویره لرل دایمان نښه ده ... مسلمانان د داسې ... سره ګډول سره چې ... حال هدف به نه رسیږي

(پاتې ۷-۸ ستون)

په افغانستان کې دخارجي...

اداره ده، هلته امن اواستقرار دی، هلته د خلکو عزت او ابروخوندي دی او هلته خلك هوسا او سوکاله ژوند کوي.

بهرنیو دښمنو قوتونو غوښتل چې زمونږ اقتصادي او دفاعي زیربنا بربادي کړي، امکانات مولوټ کړي، وسلې سوبه بهر کې په ناچیزه بیو وپلورل شي او ... مګر الحمد الله چې داسلامي تحریك په رامنځته کیدو ددښمن دا ارادې هم ناکامې اوشنډې شوې اوس داسلامي تحریك تر ولکې لاندې سیمو کې دهیواد ټولې اقتصادي منابع او دفاعي سـايل سـحفـوظ دي. دهیواد او مـذهب دښمنان یې وارخطا کړي دي.

لنډه دا چې دطالبـانو اسـلامي غـورځنګ ددښمنانو ټولې توطیې شنډې کړې، اهداف یې ورله نابود کـړل. غوښتنې یې ورله ســوناړې کړې ، ارادې ورله بربادي کړې، نوددې ټولو سره سره بیاڅرنګه کیدای شي چې یو بهرني ملك دې زمونږ لپاره دومره خیر وغواړي او دیو داسې صالح اومصلح قوت ملاتړ دې وکړي؟

حقیقت دسـتلې خـو دادي چې دپردیو مزدوران غـواړي چې زمـونږ دهـیواد والو د افتخاره ډك اینګارونه نورو ته منسوب کړي ځکه هغوی د پردیو په محبت کې دومره ډوب شوي چې د خپلو هیوادوالو وياړونه هم هغوی ته وربخښي.

په هرصـورت زمونږ ولس دومره بې خبره هم نه دی لکه څرنګه چې ورته دکابل واکمنو ګمان کړی ، نو هیڅکله به دالمبرتي قوم دهغوی په تبلیغاتو او درواغو نه غولیږي ، او دوخت په تیریدو به دهر چاحقیـقت ښه ښکاره شي، لکه څـرنګه چې دکـابل د زمامدارانو داسلام دښمنی او هیواد دښمن پدمرغه او کرغیړن اهداف ټولو هیوادو الو ته دلمر په شان ځرګند شول. لري نه ده چې دکابل دائتلافي اداري دنورو ملګرو داسلام دښمنی اووطن دښمنی حقایق به هم دهیواد هر وګړي ته ښکاره او ځرګند شي، هیوادوال به یوه شي چې څوك صادق دي اوڅوك خائن ، څوك داسلام او هیواد ساتندوی دی او څوك د پردیو دلاسو ... آله او وسیله دی.

په اوږګون کې مخالف جګړه مار...

غوښتل یې په دې توګه دطالبانو داسلامي تحریك دسولې دغه کاروان له ناکامۍ سره مخامخ کړي.

دطالبانو داسلامي تحریك زوررو خواکونو له پیسې نه په خبریدلو سره ســمدلاســه دخالد دهوايي ډګر قرارګاه له منځه یووړه اوبیا یې په تابوت کې دهغه په عمومي قرارګاه برغل وکړ چې جریان یې دشریعت په تیره ګڼه کې چاپ شوی دی .

کله چې پنځــو ورځــو اوریند په پای کې په سیمه کې دجګړې داور دپای ته رسولو لپاره دقام علما اوسپین ږیرې رامنځ ته شول دا فیصله یې اعلان کړه:

۱- حـــزب اســـلامي به له دې حـــایه خـپل مرکزونه باسي اودولایت په بل حـای کې به دمرکز دبیافعالولو هڅې نه کوي.

۲- دحزب اسلامي افراد په غونډۍ اوخلکو ته میلمستیاوې نه کوي.

۳- دکابل له ائتلافي اداري څخه به پیسې نه اخلي اوخپل ارتباطات به ورسره شلوي.

٤- په سیمه کې به په تمامه معنی دطالبانو داسلامي تحریك اداره مني.

٥- دطالبـانو داســلامي تحریك اداره به له هغوی سره ښه سلوك کوي.

٦- کـــــه چیـــــرې دطالبـــــانو اداري ته دتخریبکاری کومه اطلاع ورسیده هغوی به اړونده کـــــسان خـبر وي او بیـا به په ګـډه دتخریبکاري دمخنیوي لپاره اقدام کوي.

۷- کـه کـوم لوري له دغـو مـادو څـخـه سـر وغړاوه تول قامونه به خپله همکارۍ ورسره بندوي.

دغه مادې په همـاغه ورځ دطالبانو له خوا ومنل شوی، خو مقابل لوري مثبت ځواب ورنه کړ، سره له دې چې دقامونو مشرانو ته یې بشپړ واك او اختیار ورکړی و ، که څه هم دقام مشرانو هغوی ته قران وروړ، پسونه یې وروســـتل او څولې یې ورته وغوړولې چې ددوی خــیـره ومني او دســیمې دامنیت دګډوډۍ مخه ونیسي، خو څه فایده یې ونه کړه، ترڅو قامونو فیصله وکړه چې حزبیان ملامت دي، کېرجن دي، نو قامونه مجبور دي چې له خپلې خاورې څخه دفاع وکړي. قامونه به پخپلو سیمو کې حزبیان نه پرېږدي ، ددوی مړي به ددوی په هدیرو کې ښخولو ته نه پرېږدي اوجنازه به یې نه کوي.

کله چې دقام دعلماو اوسپین ږیرو له خوا داورېند ټاکلې نېټه پای ته ورسیده نوطالبان مجبور شول چې حزبیان له سیمې نه وباسي اوپه دې توګه دسیمې امنیت له خطر څخه وژغوري، نو دتابوت په قــرارګـاه یې له ددوخواو څخه زورروه حمله پیل کړه چې په نتیجه کې دمقابل لوري پنځه ویشت تنه ووژل شول ، یو شمیر یې زخمیان و ٥٥ تنه یې دطالبـانو په لاس اســیران شـول. زمونږ خبریال له ارګون څخه خبر راکوي چې له سیمې څخه حزبیان دتیښتې په حال کې دي، په دې عــادلانه جګړه کې له طالبـانو سره دقامونو مسلمان خلك هم بشپړملګري دي اوهیله ده ډېر ژر به په پکتیکا کې دجګړه مارو مخالفینو ټولې ټیپې ټیپانې له منځه یووړل شي.

په دې عملیاتو کې دتحریك زړورو مجاهدینو له تخریبکارانو څخه ۱٥۰ میله درنده او بې شمیره سپکه وسله نیولې ده.

مور دملګرو ملتونو هغه هڅې...

پروسې څخه تیریږي اوله ملګرو ملتونو سره دخبرو اترو لږه تجربه لري، نو دوی اوس باید له خبرو سره اوریدل هم زده کړي.

ده وویل: دوی باید دا زده کړي چې نورو ته هم باید دغږ موقع ورکړل شي.

په همدې اړه دطالبانو داسلامي تحریك داطلاعاتو اوکلتور رئیس محترم مولوي امیر خان متقي له بي بي سي سره په یوه مرکه کې داسې وویل: پخواهم چې کله دسیاف او اهل تشیع ترمنځ دسولې خبرې پیل کیدې، نو دربانې ملیشو به دغه شان اقدام کاوه ترڅو ددوی ترمنځ بیا اوربل کړي.

ده وویل: اوس هم چې کله دغـه شـان یو پروګرام روان وي، یا دواکسیناسیون پروګرام شروع وي، یا مثلاً ..رات روان وي اویا کوم میلمه کابل ته راغلی وي نو دوی دطالبانو د بدنامی لپاره دغسې ناوړه عمل ترسره کوي.

ده وویل: مونږ دملګرو ملتونو هغه هڅې او کوښښونه چې دافغانستان دخیر اوبقا لپاره یې کوي ستایو اوملاتړ یې کوو، مونږ پخوا محترم محمود مستیري ته هم دا ویلي وو چې تاسو یوه داسې معقوله لار راوباسئ چې دافغانستان دمشکلاتو دحل لاروې مونږ یې تائیدکوو.

محترم متقي وویل: مونږ ددوی د هغو هڅو مخالف نه یو، چې هغه داسلام او افغانستان له منافعو سره برابرې وي، راکټ ویشتل د دښمن یو سازش دی، غواړي چې طالبان بدنام کړي، زه بیا بیا وایم چې مونږ هیڅکله داسې عمل نه کړی دی اونه یې کوو، ځکه زمونږ جنګ دهغوی له ملیشو سره دی نه له ملګرو ملتونو اودکابل له ښاریانو سره .

اوهم په دې اړه دشریعت داوونیزې مسئول مـولوي احـمـدجـان داسې وویل: دطالبـانو اسـلامي تحریك په داسې حـال کې چې په هیواد کې دسولې اواستقرار له راتللو سره د زړه مـینـه لري اوپه همـدې غـرض دملګرو ملتـونو د ســولې له هلو ځلو ســره ملاتړ اعلانوي له ډاکټر نوربت هول څخه غواړي چې د دیپلوماتیکو اصولو له مخې مسـایل ارزیابي کړي دادډیپلوماسي له اصولو څخه ځرګند مخالفت دی چې ډاکټر هول په نالیدلي توګه دمستلې په یو اړخ باندې تور لګوي اودهغـوی لپـاره داسې کلمـات استعمالوي چې اصلاً د ډیپلوماسي په قاموس کې نه موندل کیږي.

مونږ ډاکټر هول ته مشوره ورکوو چې لومړی دې ډیپلومـاسـي زده کـړي اوبیـا دې دافغانستـان دمستلې دحل لپاره میدان ته راووزي، ځکه مونږ پخوا هم ویلي دي او یو ځل بیا په مسئولیت سره وایو چې مونږ دکابل دښاریانو دنجات لپاره هلې ځلې کوو نه دا چې هغوی ته له نجات ورکولو نه مخکې هغـوی دمـرګ په کـومې کې ورکـړو.

دکابل پولیسي سیستم روسي کیږي اوکه سیمه ایمن خاد معاول دی؟!

دکابل ائتلافي اداري په مسکو کې دخپل سفیر؛ عبدالوهاب عاطفي په واسطه له روسانو څخه وغوښتل چې کابل ته روسان ولیږي او دکابل پولیسي سیستم دکمونستانو ددورې په شانې یوځلې بیا روسي کړي او په دې توګه ددفاع په وزارت برسیره د داخله چارو وزارت هم د روسي ماهرینو په ولکه کې ورکړي. لوستونکو ته به معلومه وي چې دکمونیستانو د ثور دکودتا نه وروسته چې روسان دافغانستان په هرڅه باندې مسلط شول، دافغانستان پولیسي سیستم هم روسي شو. دخلکو نیول، ځورول او وژل په هغه وحشیانه ډول سره پیل شول چې دنړۍ په هیڅ وحشي او دیکتاتورو نظامونو کې یې ساری نه لیدل کیدل.

په یوه هیواد کې دپولیسي اداري حیثیت لکه په بدن کې د زړه په شان ده، که زړه درست کار وکړي بدن په صحي سالم وي، اوله هر آفت څخه به مصئون وي، او که زړه فاسد شي نو بدن به هم فاسد او له راز راز مشکلاتو سره مخامخ کیږي.

اوس چې دهیواد پولیس د روسانو په اسلام ضد اوالحادي مفکوره باندې روزل کیږي ، اوله اسلامي اخلاقو اواسلامي عقیدې څخه يې مغرور وبتحل کیږي، په هیواد کې داسلامي نظام او اسلامي عقیدې په خلاف یو بل ناپاك کوښښ روان دی چې دهیواد با ایمانه او مجاهد ملت باید آګاه او بیدار واوسي، په کابل کې دکمونستانو په لاسونو دیرغمل اداري په خلاف خپل جهاد ته ادامه ورکړي چې د افغانستان مسلمانان اوهم دسیمې مسلمان هیوادونه ددوی له شر څخه خلاص کړي. څو داتلس لکه شهیدانو او بندیانو ارمانونه دکمونستانو په ناپاکو لاسونه باندې له خاورو سره خاورې نشي.

د روسانو پیلدی اداري K.G.B په افغانستان کې پولیسي او اطلاعاتي نظام بواځې دافغانستان دپاره نه وو روزلی، بلکې هغه ی په سیمه کې دټولو هیوادونو او په ځانګړې توګه دخلیج دهیوادونو د کنټرول او دتېلو په چینو باندې دخپلې اچولو دپاره میتځ نه راوړی وو.

کله چې په افغانستان کې کمونستي رژیم د افغانانو داسلامي جهاد په نتیجه کې رانسکور شو او ورسره ورسره دشوروي اتحاد استعماري جوړښت هم له مینځه ولاړ، دخاد او K.G.B داداری نظم هم تربوی اندازې له ګډوډۍ سره مخامخ شو. کمونستان په تیښته کې شول اوپه یو اوبل ځای پورې یې ځان دبقا دپاره لاسونه تکیه کړل اوهرچا ته به یې دخپلو مجرمانه پولیسي او اطلاعاتي وحشي تجربو مهارتونه وړاندې کړل. له بده مرغه چې دکمونستانو دغه ملحدي او مسلکي جاني ډلې دمجاهدینو له د دوو رقیبو ډلو سره یوځای شوي، او ددوی له اختلافونو څخه په استفادې سره یې خپل موجودیت په څه ناڅه منظم شکل وساتل او ورو ورو یې په دغو دوو جهادي ډلو باندې مسکولي ټینګې کړې او دمجاهدینو د انحراف ټولې بدمرغه اوبد اخلاقه لارې اوچارې په کار واچولې چې دافغانستان اسلامي جهاد یې په ټوله نړۍ کې داسې بدنام کړ چې داسلامي نړۍ د ډیرو اسلامي تحریکونو دناکامۍ اوبدنامۍ اساسي عامل وګرزیدلی.

اوس چې له یوې خوا روسان بیرته دپخواني شوروي اتحاد د ژوندي کولو هلې ځلې کوي او غواړي په نړیواله سطحه د K.G.B بدنامه اوجانې اداره دوباره فعاله کړي، په افغانستان کې ددغې اداري بچیان خاد هم خپلې برغملي اداري ته یوځلې منسوږ ... کړه چې ټول پخواني مسلکي کمونیستان دي له مسکو څخه راوغواړي چې دکابل داسلامي اداري مختلفي څانګې فعالي کړي او اوس یې ورته امر وکړ چې خپله له روسانو څخه وغواړي چې ددوی پولیسي سیسـم ورته فعاله کړي، چې دا په حقیقت کې د روسانو په سالي او تخنیکي مرسته به افغانستان اودسـیمې هیوادونو باندې دوباره دK.G.B منګولې ټینګول دي، چې نه بواځې دافغانستان دپاره خطر دي، بلکې دسیمې دهیوادونو دپاره هم یو جدي چیلنج دی چې دمخنیوي دپاره یې باید ټول ممکنه اقدامات په کار واچول شي.

زمونږ یو شمیر په اصطلاح جهادي وروڼه په خپل ناوړه او غیر اسلامي تعصب او غرور کې دومره غرق او ډوب دي ، چې نه خو یې په خپل شاوخوا کې دخاد او K.G.B دغه لوبې اوتلکې په نظر ورځي او نه خوبې داسلامي جهاد ، افغان مسلمان ملت او حتی خپله ددوی ناچې اوژغورنکي خوځښت « دطالبانو داسلامي تحریك» هغه هلې ځلې په سترګو کېږي چې دخلکو ، هیواد اواسلامي جهاد دژغورلو او نجات دپاره یې کوي. بلکې ددې برعکس ددغه اسلامي تحریك هر ښه کارته بد وايي، ناروا تبلیغات پسې کوي دافغانستان او نړیوالو په وړاندې یې په راز راز تومتونو او تورونو توروي، اوپه دې توګه له یوې خوا دخپل ځان پسې په خپله په تیروهی او له بلې خوا له افغانستان او اسلامي جهاد سره سخته جفا کوي اوپه دې تولو برسیره دمسلمانانو په حیث داخیرت دپاره ګناه پیټې درنوي چې هلته به بیا الله تعالی ورته سخته سزا ورکړي.

دکابل په اداره کې شاملو جهادي اومخلصو وروڼو ته په کارده چې نوریه پښو سترګو باندې، بواځې دځو مادي امتیازاتو دترلاسه کولو دپاره دی د یو شمیر ځان غوښتونکو او ضدي عناصرو نامعقولي لارې نه تعقیبوي، په اسلامي او افغاني جرأت سره دی ورته ووایي« این راه که تو میروی به روسیـــستان است» نور په ائتلافي اداره کې باید په کمونیستانو او خادستانو باندې اعتماد ونه کړای شي، دهغوی خائنانه او غلامانه فعالیتونو ته دې متوجه شي، دځان ، افغانستان او اسلامي جهاد دنجات په خاطر دې دطالبانو له اسلامي تحریك سره یو ځای شي په دنیا کې به ویاړمن او دادمن وي اوپه آخرت کې به یې دالله «جل جلاله» رضا ترلاسه کړي وي.

دپنځم ستون پاتې

ده دحضرت عمر بن عبدالعزیز دخلافت د دوري عدالت ته په اشاري سره وویل چې مونږ ټول باید پخپلو ورځنیو چاروکې دهغوی کړه وړه خپله نګ لاره وګرځوو او را سپارل شوي وظایف په پوره مسئولیت او ایمانداری سره سرته ورسوو.

تر ده وروسته رئیس تنظیمه او دعالي شوری سرپرست محترم ملا محمد حسن اخند خپله عالمانه وینا دعظیم الشان قرآن دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل کړه وی ویل : خدای پاك انسان ...ږي په نړۍ کې پیداکړی دی هدف یې دانه دی چې بوازې به خوراك اوڅښاك کوي بلکې لوی هدف دادی چې دهغه لوی خدای «ج» بندګي به کوي ، هرڅه لاندې به نیسي چې د خدای «ج» کتاب قرآن عظیم الشان او د خدای «ج» نازولی پیغمبر حضرت محمد «ص» په واسطه ښودل شوي ده.

ده زیاته کړه: څوك چې غواړي لوی خدای «ج» ته ځان نژدې کړي، نو دهغه د رسول «ص» اطاعت دې کوي، نو مونږ ټول باید خپل ځانونه دمحمدي شریعت مطابق برابر کړو.

وریسې دمرکزي شورې غړي او د دارالافتاء نائب رئیس محترم مولوي نور محمد ثاقب پخپله ولوله انګیزه وینا کې وویل: په نړۍ کې ډېر ادیان شته اوقوانین شته خو بوازې اسلام دی چې هرڅه لري او دټولو انسانانو حقوق پکې خوندي دي.

SHRIAT WEEKLY
Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No. 1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه در نکړي چې دا ډول سپیڅلې پاڼې په ناوړه ځایو کې کیږدئ وغورځوئ.

(اداره)

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$.75	$.150